# Pakhtunkhwa پښتونخوا

## دپښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند خپرونه

## ۱۶ مه ګڼه ۱۹۹۵ کال





## Jahrg./vol:1995/ 9 nummer/ no: 16


## PASHTOONKHWA / PASCHTUNCHWA

### ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN
### Paschtunchwa/Afghanistan- PARTEI DER PASCHTUNEN

### ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL
### DEMOCRATIC PARTY (PSDP) - Pashtunkhwa/Afghanistan

## V.S.I.P / Responsible for contents

DR. KABIR STORI
RICHARDSTR. 5
50389 Wesseling - Germany
Tel.: 0049 2236 83463



## Editorial Board /Redaktion د خپرونې جرګه:

| | |
|---|---|
| Ali Khan Mahsood | علي خان محسود (مسيد) |
| Hedayat Bangash | هدايت الله خان بنګښ |
| Mabariz Zapi | خان محمد مبارز ځاپی |
| Aziz Sarshar | عزيز سرشار |
| Nasir Stori | نصير ستوری اپسپزی |
| Gul Ghutai Kunarai | ګل غوټۍ کونړۍ |



www.pashtoonkhwa.com
pashtoonkhwa@gmail.com
psdp@gmx.net




سرليکونه او ليکوال — مخ


| | | |
|---|---|---|
| آيا د يورند دتپل شوی کړښی په حکله تړون قانونی مشروعيت لری؟ | ن سالارزی | ۲ |
| حقوقی موازنه | محمدافغان اباسين | ۵ |
| د پښتنود تولنيزا ولسوليزګوند بنستيزه | (منشور) | ۷ |
| ترکانی د بيزو کارندی | ښرځارمن محمداکبر خروتی | ۱۷ |
| ارمان | کبير ستوری | ۱۸ |
| په کراچۍ کښی د اولسی ښيګړی غوندی ته د پخوانی چيرمين ښاغلی نصرالله جان خان وينا | | ۱۹ |
| نوی زړی | خبريال احمدشاه امين | ۲۲ |
| کتابونه | | ۲۳ |
| غزل | محمداجان يار | ۲۵ |
| د پښتونګل اوناری | ډاکترمحمد جاويد وردک | ۲٦ |
| د زمانی ننګيالی | ډګروال احمدجان | ۲۷ |



خپرونکي : د پښتنو تولنيز اولسوليز ګوند
پښتونخوا/افغانستان

Herausgeber: Sozialdemokratische Partei der Paschtunen
Paschtoonchwa / Afghanistan
Publisher: Pashtoons Social Democratic Party
Pashtoonkhwa / Afghanistan



زمه وار
V. S. I. P.
RESPONSIBLE FOR CONTENTS
ډوکتور کبير ستوری
DR. KABIR STORI
RICHARD-STR. 5
50389 WESSELING
GERMANY
Tel.: (02236) 83463



Redaktion
Editors Board

د خپرونی جرګه :

| | |
|---|---|
| Ali Khan Masood | عليخان محسود |
| Hidayat Bangash | هدايت بنګښ |
| Mabariz Safi | مبارز صافی |
| Aziz Sarshar | عزيز سرشار |
| Abdul Nasir Stori | عبدالنصير ستوری |
| Gulgutai Kunarai | ګل غوټی کونړی |

نواوس د حقوقي موازنې پوره پوره اندازه ولګيده او د ې ثبوت وشوچې انصاف اوعدالت څه د ی . د ثقافتي حقوقو په سلسله‌کښې د هيڅ قسم ملحوظاتو خيال نه ساتل‌کيږي ځکه ثقافت د قوم اوټولنې عنوان اومعرفت وي که پدې کښې هم د حلا تو ايجاب ته وکتل شي نونتيجه به ئې د پرد ويود غرضي خواهشاتوښکار کيدل وي . د اقتصادي کمزورتيا علاج کيداى‌شي خو که ثقافت ( کلتور ) له منځه لاړشي او يا د پرديو د تاثيراتوپه بهيرکښې لا هوشي نوهم زيانيدلي اوهم شرميدلي .

د اتيک د ه چې په يوه ملك کښې به مختلف خلك اباد وي خو " چې اوسې په مذهب به د هغوسې" ثقافت د يوې‌ټولنې په افراد وکښې د نظم اوضبط روحيه قوي کوي . په کومه ټولنه‌کښې چې نظم او ضبط وي د هرچا سترګه ترې سوزي اوهيڅوك ئې د حقوقي حيثيت نه انکار نه شي کولی .

د دې قسم تاثراتووجوهات د يوه خاص تعليمي نصاب سره تړلي دي خو پورې چې د علم اوتعليم په دونيا کښې يو د اسې بد لون رانشي چې هغه د موجوده تعليم وتربيت ټولي خامي اوکمزورۍ په ګوتوکړی‌شي ، هغه د تنقيد د لاندې ونيسي اوپه ځای ئې د يوه د اسې تعليم وتربيت ابتدا وکړي چې د مستقبل کهول (نسل )ترې د خپل ملي اوقامي انفراديت د تحفظ ، استحکام اوتمثيل په لاره کښې اثراوفايده واخلي ، خوحکمراني طبقې ته پکاردي چې د مخالفينوسره مناسبه طريقه اختيار کړي اوپه دې قسم د دې ثبوت ورکړي چې د وي د قوم اوملت د فطري غوښتنو تينګ ملاتړ اوملګري دي . حکمراني طبقې به پد ې‌سلسله‌کښې د خپلوتنظيمي اونظرياتي حدودو نه بالاتر سوچ کوي اود ملي اوقامي ګټوپوره څارنه اونګراني به کوي .

" پاتې برخه په راتلونکې ګڼه کښې "

| |
|---|
| چې ئې نه شليږي ځنځير د ورورولۍ<br>زه قربان شم د پښتو پښتونولۍ<br>پښتو ننګ دی پښتو ژوند دی پښتومينه<br>پښتانه تل په پښتو تويوي وينه |



# د پښتنود ټولنيزاولسوليزګوند
## بنسټيزه «منشور»

### پيژندګلوی :

د پښتنوټولنيزاولسوليزګوند د ټولوپښتنود يووالي اوخپلواکۍ (ازادۍ ) ګوند دی چې د يوې د اسې ټولنې د جوړولو هڅه‌کوي چې هرڅوك پکې په ازادانه‌توګه خپل شخصيت ته وده ورکوي اود انسانانوپه خدمت‌کښې د ټولنې په سياسي ، اقتصادي اوکلتوري ژوند کښې برخه اخلي . پښتونولي ، ټولنولي اواولسولي د پښتنود ټولنيزاولسوليزګوند تاداو اوبنسټ جوړوي . پښتونولي اوټولنولي د اولسولۍ‌پواسطه چې ګډ خوي‌ئې دی يود بل‌پورې‌تړلي اونه بېليد ونکي دي . پښتونولي په‌اولسي ټولنولۍ کې اواولسي ټولنولي په پښتونولۍ‌پياوړی او بشپړيږي .

ازادی عدالت (انصاف )او ورورولي د پښتني ټولنيزې اولسولۍ غوښتنې دي . لدې‌کبله‌پښتانه ټولنيزاولسولي وال هرډول اميرولي (د يکتاتوري ) مطلقه ټولواك اويوګوند يزحاکميت نه مني چې د انسانانوازادۍ او حقوق د منځه وړي .

### بنسټي ارزښتونه :

١ ) د پښتنواود پښتنودوطن پښتونخوا ويش سوله په خطرکښې اچولی د ه . د سولې د ژغورلولپاره د ټولوپښتنويووالي اود پښتنود خپل خپلواك هيواد (ستيټ/ د ولت ) پښتونخوا جوړونه د پښتنود ټولنيز اولسوليزګوند ترهرڅه مهمه ترټولو ستره د ند ه اوبنسټي غوښتنه د ه .

٢ ) د پښتونخواهيواد (ستيټ/ د ولت )واك به د اولس په لاس‌کښې وي . د دې د پاره پکار دی چې د پښتونخوا د پښتنود اولس ويش ، جغرافيائي اواد اري اسانتيا وو له مخې په سيمو (سوبو/ايالتونو ) وويشل‌شي اوهره سيمه‌بيا په لويواولسواليو (ضلعو )اواولسواليو (تحصيلونو ) ويشل شوې وي . هره سيمه (سوبه/ايالت ) به ځانته سيمه ايزه جرګه (سوبائي /ايالتي جرګه )اوسربيره پر دې به د پښتونخوا يوه ملي جرګه (قومي جرګه )اوبله‌د مشرانوجرګه (سينټ ) وی .



د سيمي (سوبائي /ايالتي )جرګه‌به‌خپلوغړوڅخه‌د سيمي (سوبائي / ايالتي )حکومتونه اوملي جرګه (قومي جرګه )به د خپلوغړوڅخه مرکزي حکومت ټاکي .

د مشرانوجرګه (سينټ )به‌د سيمو (سوبو/ايالتونو )د حکومتونود مشرانواود هرې سيمي (سوبې /ايالت )د وګړوپه حساب د سيد ه ټاکل‌شوونماينده ګانوڅخه جوړه شوې‌وي . د ملي (قومي ) اوسيمه ايزو (سوبائي /ايالتي )جرګوپه پريکړوبه غوړکوی او جمهور رئيس به نوموړی‌اود تائيد لپاره به ئې لويه جرګه راغواړي د ملي (قومي )اوسيمه ايزو (سوبائي /ايالتي)جرګوغړي په سلوکښې اتيا ( ٨٠ )د اولسواليو (تحصيلونو )په حساب د اولسواليو (تحصيلونو ) د وګړوله خوا په سيد ه توګه د ازادې‌ټاکنې د لاري او په سلوکښې شل ( ٢٠ )د هغه‌ګوندونو د لارې چې په سلوکښې ئې پنځه( ٥ )رائې ګټلي وي‌په غيرې‌سيد ه توګه ټاکل کيږي .

د پښتونخوا هراوسيد ونکي چې عمرئې د اتلس( ١٨ ) کلونوڅخه کم نه وي د د وه ووټونوحق‌لري چې يوبه‌ګوند اوبل به کانديدته ورکوي‌خوخپله د ملي (قومي )اوسيمه ايزو (سوبائي /ايالتي )جرګود پاره هله ځان کانديدولی شي چې عمرئې د ديرش( ٣٠ ) کلونو څخه کم نه وي .

٣ ) د پښتنوټولنيزاولسوليزګوند د خپل مقدس دين اسلام د پرمختګ اوټينګښت د پاره هلې ځلې کوی‌اود نورو د ديني عقيدوته په درنه سترګه ګوري .

٤ ) ژبه اوکلتورد قام او وطن په ابادۍ کښې مهم رول لوبوي لدې امله‌د پښتنوټولنيزاولسوليزګوند د خپلې ژبې اوکلتور وده اوپرمختګ خپله بنسټيزه دنده ګڼي اوغواړي چې د هيواد (ستيټ/ د ولت ) د ريواړه قوې (قانون جوړونکې ، اجرائيه اوعدليه )د پښتونولۍ په بنسټ ولاړوي‌اود پښتنود جرګوپريکړي رسمي خوی پيدا کړي .

٥ ) د توليد په وسايلوخصوصي ملکيت د ژغورلوا وتقويه‌کولوحق‌لري ترهغوچې د عاد لانه ټولنيزنظم‌مخه ونه نيسي .



د اقتصادي اوخصوصي ملکيت د اسې تقويه‌کول‌پکار دی چې د يوې خوا د کارځايونه پيدا شي اود بلې خوا وطن‌صنعتي وګرځي خوصنعت به‌په ټول‌وطن‌کښې خوراو وروی اومرکزي بڼه به نه لري .

٦ ) هرتن‌مجبوردی چې هيواد (ستيټ/ د ولت )ته‌د خپل‌عايداتو په اندازه محصول ورکړي .

٧ ) کار د پښتونخوا د هراوسيد ونکي حق دی‌اوهيواد (ستيټ/ د ولت ) د خپل‌وس سره سم‌د کارپيدا کولوذ مه واري‌پرغاړه لري . هغه چاته چې کارنه پيدا کيږي‌او‌يا د کارکولوتوان‌نلري‌د هيواد (ستيټ/ د ولت )له خوا د ومره مرسته ورسره کيږي‌چې ګذاره پرې‌وکړي .

٨ ) د پښتنوټولنيزاولسوليزګوند د انسانانوژوند اوانساني درناوی‌ته ترهرڅه زيات ارزښت ورکوی‌اوغواړي چې ټول‌انسانان مساوي‌حق‌ولري‌او‌هيڅوك‌د مرګ په جزا محکوم نه شي اوهم‌په غير انساني توګه جسماني اوساوال (نفسي /روحي )ونه ځورول‌شي .

٩ ) ټولنيزامن‌اود ژوند انه د هرډول شرائطوښه‌کول اوپه تيره بيا د انسانانود لوږنيواړتيا ووپوره‌کول د پښتنود ټولنيزا ولسوليزګوند غوښتنه د ه.

١٠ ) پوهنه‌د پښتونخوا د هراوسيد ونکي بنيادي حق دی اوپه معياري پښتو ژبه به وي . پوهنه بايد ه د ه چې هر چاته د دې امکان‌ورکړي چې خپل استعداد ته پې د کوم‌ځنډ څخه وده ورکړي . په پوهنه کښې د يره پاملرنه مسلکي ښوونځيواوزده‌کړي ته پکارده ځکه چې د يوې‌خوا د مسلکي زده‌کړي‌پواسطه‌وطن‌ابادېدلی شي اود بلې خوا هرسړی په خپلو پښو ودريدلی شي .

د لسم ( ١٠ )ټولګي پورې‌زده‌کړه جبري‌د ه اوچارې‌ئې د مرکزي حکومت په غاړه دي . پوهنيزه څيړنځايد ه د ه چې د مرکزي‌حکومت له خواغښتلي شي اونتيجې ئې د عوامو‌په خدمت اود ټولنې په وده‌کښې راوستل‌شي .

١١ ) د فکر ، نظريو ، مظاهرو ، جلسواواتساب ازادي بې د رنګ ، نسل ، ښځې اونرد امتيازڅخه د پښتني ټولنيزې اولسولۍ

بنسټي غوښتنه ده.

۱۲) خپروني، مطبوعات، راډيو، تلويزون او فلمونه عامه دنده اجرا کوي. دوی بايده دي چې په ازادانه او ناپيلي توګه د پښتني دود او دستور سره سم په هر ځای کښې معلومات راغونډ او په خپل مسؤليت (زمه واری) خپاره کاندي.

۱۳) د ګوندونو او ټولنو د جوړولو او فعاليت ازادي د پښتنو ټولنيز او لسويز ګوند غوښتنه او د هيواد (ستيټ/دولت) بنسټي دنده ده. خو رسمي ګوند ونه هله ګڼل کيدلی شي چې د پښتونخوا د سيمه ايزي (سوبائي/ايالتي) يا ملي جرګې (قومي جرګې) په ټاکنه کښې په سلوکښي پنځه (۵) وو ټونه (رای) ګټلي وي.

۱٤) د پښتنو ټولنيزا ولسوليز ګوند د خپلو غړو کسبي او نورو علايقو ته د پراوزښت ورکولی د پاره د خپل ګوند مختلفو ټولنو لکه د بزګرانو (دهقانانو)، مزدورانو، کارګرانو، ترکاڼانو، پښانو (لوهارانو)، قصابانو، موچيانو، ناييانو، دوبيانو، کولالانو، جولاګانو، طبيبانو، حقوق پوهانو، ښوونکو، ليکوالو، پوهيدونکو، او نورو د جوړولو هڅه کوي او يو د «ځوانان پښتون» په نامه ټولنه ضروري ګڼي. د دی ټولنی غړي د ګوند نيالګي دي چې په اتلس (۱۸) کلنۍ کښي د ګوند غړيتوب تر لاسه کولی شي او د يرش (۳۰) کلنۍ پوری د ټولنی او ګوند غړي پاتې کيدلی شي او د يرش (۳۰) کلنۍ څخه وروسته بيا يوازي د ګوند غړي دي.

۱٥) د خپل وطن پښتونخوا ازادي، دفاع او ساتنه او د پرو ګوندونو د لاري د ولسولۍ ټينګونه د پښتنو ټولنيزا ولسوليز ګوند غوښتنه او د پښتنو دنده ده. وسله وال پوځ او لښکر به خامخا د ملي جرګې د کنټرول او د حکومت د لاس لاندې وي.

۱٦) د پښتنو ټولنيزا ولسوليز ګوند د نړۍ د ټولو ټولنيزو او ولسوليزو ګوندونو، د لو، ټولنو، حکومتونو، او خلکو سره د نژدې اړيکو هڅه کوي.

۱۷) د پښتنو ټولنيزا ولسوليز ګوند د ملګرو ملتونو د موسسی (اقوام متحده) د منشور او د انساني حقوقو د اعلاميې او د ټولو ولسونو د خوداراديت او خپلواکۍ د حق دفاع او ملاتړ کوي او استعمار په کلکه سره غندي.



۱۸) د پښتنو ټولنيزا ولسوليز ګوند د نورو ورونو قومونو سره د ازاد خوداراديت د لاري د پښتونخوا اتحادي جمهوريت (فدرالي جمهوريت) جوړول غواړي.

## ګوندی جوړښت (تشکيلات/تنظيمي بنه)

**مرکز او فعاليت**: د پښتنو ټولنيزا ولسوليز ګوند لوی مرکز په پښتونخوا کښې دی او د ټولی پښتونخوا په ګوټ ګوټ کښې د لګۍ، د لی، ټپلی، او پرې کار او فعاليت کوي چې يوه د له د دوو (۲) يا زياتو لګيو او يوه ټپله د دوه (۲) يا زياتو د لو او يوه پره د دوو (۲) يا زياتو ټپلو څخه جوړه شويده.
سربيره پر دی د پښتونخوا په دننه او بهر کښې يو شمير مسلکی او د علايقو ټولنی لري او په ملګرو بهرنيو هيوادو کښې د ګوند او يا د خپلو غړو ټولنو په نامه دفترونه لري.

**غړيتوب**: هرڅوک چې عمرئی د اتلسو (۱۸) کلونو څخه کم نه وی او په پښتو ژبه خبری کوی او د پښتنو د ټولنيزا ولسوليز ګوند بنسټيزه (منشور) ومنی او په يوه وخت (عين وخت) کښې د بل ګوند او يا مخالفی ټولنی غړی نه وی کولی شی چې د لګۍ د مشر ته د غړيتوب غوښتنليک ورکړي او د ګوند د دوه (۲) غړو په سپارښت د ګوند د مرکزي جرګې د مربوطه څانګی له خوا په غړيتوب منل کيدلی شی. دا چې کومې ټولنی د ګوند مخالفی دي د مرکزي جرګې د پريکړی پوری اړه لري.

**جرګی**: د پښتنو ټولنيزا ولسوليز ګوند اته (۸) جرګي لري چې پريکړه ئي په هغه وخت کښې رسمي بڼه لري چې نيمائي غړي حاضر وي.
- د لګۍ جرګه: دا جرګه د دغه د لګۍ د غړو مشر او مرستيالانو څخه جوړه شوی ده.
- د لی جرګه: دا جرګه د دغه د لی د مشر او مرستيالانو او ورسره ترلو د لګيو د مشرانو څخه جوړه شوی ده.



- د ټپلی جرګه: دا جرګه د دغې ټپلی د مشر مرستيالانو او ورپوری ترلو د لو د مشرانو څخه جوړه شويده.
- د پرې جرګه: دا جرګه د دغه پرې د مشر، مرستيالانو د پرې د څانګو د مشرانو او غړو او د دغه پرې پوری د ترلو ټپلو د مشرانو څخه جوړه شويده.
- د پری ستره جرګه: دا جرګه د دغه پری د مشر، مرستيالانو د پری د څانګو مشرانو او غړو او د دغه پرې د لو، ټپلو، د جرګو د غړو او هری د لګۍ او ټولنی د نيغوټاکل شوو نماينده ګانو څخه جوړه شويده.
- مرکزي جرګه: د ګوند د مشر، مرستيالانو او سلاکارانو او د هغه څانګو د مشرانو او غړو څخه جوړه شويده چې شميرئې د لوړی جرګې له خوا د مختلفو مرکزي چارو د سرته رسولو د پاره د ضرورت سره سم ټاکل شوی وي.
- لوړه جرګه: دا جرګه د مرکزي جرګې او پرو د جرګو د غړو څخه جوړه شويده.
- د ګوند ستره جرګه: دا جرګه د ګوند د لو د جرګو د غړو، د ټپلو د مشرانو د مرستيالانو او د لوړی جرګې د غړو او د هرې د لګۍ او ټولنی د سيده ټاکل شوو نماينده ګانو څخه جوړه شوی ده. د لګيو او د ټولنی د نماينده ګانو شمير د دغه د لګيو او ټولنو د غړو د شمير او څرنګوالی له مخې د مرکزي جرګې له خوا ټاکل کيږی.

**ټاکنی**: د لګۍ مشر د خپلی د لګۍ د جرګې، د لی مشر د خپلی د لی د جرګې او د ټپلی مشر د خپلی ټپلی د جرګې له خوا د ديوو (۳) کلونو د پاره ټاکل کيږي او د ضرورت سره سم کولای شي چې د مختلفو چارو د سرته رسوولو د پاره دوه (۲) يا زيات مرستيالان د خپلو جرګو په خوښه ونيسی.
د پرې مشر د پری د ستری جرګې له خوا د څلورو (٤) کلونو د پاره ټاکل کيږی او بيا د پری مشر خپل مرستيالان او د پری د مختلفو



څانګو مشران او غړی د پری ستری جرګې ته ورپيژني او د پری د ستری جرګې له خوا ټاکل کيږی. د پری د څانګو او غړو شمير د ضرورت سره سم د مرکزي جرګې له خوا ټاکل کيږی، خو د پری د مشر د مرستيالانو شمير د ضرورت سره سم د پری د مشر په خوښه سره دی.
د ګوند مشر د ګوند د ستری جرګې له خوا د پنځو (۵) کلونو د پاره ټاکل کيږی او بيا د ګوند مشر خپل مرستيالان، سلاکاران او د ګوند د مرکزي جرګې د اداري، مالي، سياسي او نورو څانګو مشران او غړی د ګوند ستری جرګې ته ورپيژني او د ګوند د ستری جرګې له خوا ټاکل کيږی.
د مرکزي جرګې د څانګو او غړو شمير د ضرورت سره سم د لوړی جرګې له خوا ټاکل کيږی خو د ګوند د مشر د مرستيالانو او سلاکارانو شمير د ضرورت سره سم خپله د ګوند د مشر په خوښه دی.
ټاکنه د رايو په قطعي د يره ګی سره کيږی. که چيرته يوازني کانديد په سلوکښي د پنځوسو (۵۰) رايو څخه زياتی ونه ګټی نو بيا ټاکنه تکراريږی او که بيا هم ونه ګټله او په مقابل کښې بل کانديد نه وو نو بيا د يوه کال د پاره ټاکل شوی ګڼل کيږی. د يرو کانديدانو په حالت کښې که چيرته يو کانديد هم په سلوکښي د نيمائی څخه زياتی رأی ونه ګټی نو بيا ټاکنه تکراريږی او که دا ځل هم کوم کانديد په سلوکښی د نيمائی څخه زياتی رائ ونه ګټلی نو بيا نسبتي رائ اعتبار لري. د مساوی رايو په حالت کښي څڅړی (پچه) اچول کيږی.

**ګوندی محکمه**: که چيري يو غړی يا د ګوند د ندې لرونکی غړی د ګوند د علايقو په خلاف کار کوی او د ګوند کړنلاره او اصول نه مراعات کوی او يا د نورو ګوندونو او مخالفو ټولنو د پاره فعاليت کوي نو د ګوند د مرکزي جرګې د مربوطه څانګی له خوا محکمه کيږی او د ګوندی دندی او يا غړيتوب څخه د څه مودی او يا د تل د پاره لری کيدلی او ويستل کيدلی شی. دی کولی شي چې د ګوند

مرکزی جرگې ته شکایت وکړی خود مرکزی جرگې پریکړه د منلو وړ ده. د پړی مشرد خپلی پړی د ستری جرگې او مرکزی جرگې غړی د لوړی جرگې او د گوند مشرد گوند د ستری جرگې لخوا محاکمه کیدلی شی .

## د ندی ، حقوق او مسئولیتونه :

هرغړی دا دنده لری چی د گوند د پریکړو په عملی کولو او د گوند د کړنلا ري په پرمختیا او سمسورتیا کښی فعاله ونډه واخلی د گوند راز وساتی او وفاداری ورته وښائی . هرغړی به د خپلی پتی (درك) د بدلید و خبر مربوطه مقام ته ورکوی .

هرغړی مجبوردی چی گوند ته هره میاشت خپله د غړیتوب ونډه ورکړی . د ونډی اندازه دگوند د ستری جرگې لخوا ټاکل کیږی .

هرغړی د خپلو مربوطه جرگوپه چاروکښی د رائ او پیشنهادونو (تجویزونو ) حق لری او په پریکړوکښی برخه لرلی شی او کولی شی چی د خپل گوند په مسلکی او دعلایقو په ټولنوکښی هم غړی شی .

هرغړی د خپلی خوښی سره سم د گوند څخه د وتلو لیکلی غوښتنه کولی شی . دگوند څخه په وتلو او یا ویستل کیدلو د ده حقوق په گوند کښی د منځه ځی او هم ئی په گوند ی ټولنوکښی غړیتوب پای ته رسیږی .

وتلی او یا ویستل شوی کسان د گوند او یا د گوند د غړو سره د هیڅ ډول دعوی او هم د گوند د رازونود ښکاره کولو حق نلری او بیرته د مرکزی جرگې د رایو په ډیر ه کښي سره د گوند غړی کیدلی شی .

د گوند ستره جرگه دگوند ترټولو جگ واکمن مقام دی چی د گوند کړنلاره ټاکی . دگوند غړی ، دندہ لرونکی اونوری جرگې به دگوند د ستری جرگې پریکړی عملی کوی . دگوند عادی ستره جرگه دگوند د مرکزی جرگې لخوا په هرو پنځو ( ۵ ) کلونوکښی یو ځل او د ضرورت په حالت کښی دگوند ناڅاپی ستره جرگه په هروخت کښی



دگوند د مرکزی جرگې د رایو په اتفاق او یا د لوړی جرگې د رایو په ډیره کښی سره راغوښتل کیدلی شی .

لوړه جرگه په عادی توگه په هرو دوو ( ۲ ) کلونوکښی د مرکزی جرگې لخوا راغوښتل کیږی او د ضرورت په حالت کښی په هروخت کښی دگوند د مرکزی جرگې د رایو په اتفاق سره راغوښتل کیدلی شی .

لوړه جرگه د پښتونخوا د ملی جرگې (قومی جرگې ) د ټاکنی د مبارزی لپاره تیاری نیسی او د پروسیاست دگوند د عمومی سیاست سره سموی او د گوند د کړنلا ري او د گوند د ستري جرگي د پریکړو په عملی کولوکښی د مرکزی جرگې سره مرسته سرته رسوی او سلا ورکوی .

د پړی ستره جرگه د پړی د جرگې لخوا په کال کښی یو ځل او د پړی ناڅاپی ستره جرگه د پړی د جرگې د رایو په اتفاق هر وخت راغوښتل کیدلی شی . مرکزی جرگه دگوند د مشر، د پړی جرگه د پړی د مشر، د تپلی جرگه د تپلی د مشر، د ډلی جرگه د ډلی د مشر او د ډلگی جرگه د ډلگی د مشرلخوا د ضرورت سره سم راغوښتل کیږی .

د ډلگی جرگه د خپلی ډلی ، د ډلی جرگه د خپلی تپلی، او د تپلی جرگه د خپلی پړی، او د پړی جرگه د پړی د ستری جرگې، او د پړی ستره جرگه د گوند مرکزی جرگې ته او دگوند مرکزی جرگه او لوړه جرگه بیا دگوند ستری جرگې ته مسؤلیت (زمه واری ) پمغاړه لری . هره ټیټه جرگه به د خپلی پاسنی جرگې پریکړی منی . ټیټی جرگې کولی شی چی خپلی پریکړی او پیشنهادونه (تجویزونه ) خپلی پاسنۍ جرگې ته وړاندی کړی خود پاسنۍ جرگې پریکړه به هرومرو منل کیږی . ټیټی جرگې نه شی کولی چی د خپلو پاسنیو جرگوپه چاروکښی گوتی ووهی خو پاسنۍ جرگې کولی شی چی د خپلو ټیټوجرگوپه چاروکښی لاس ووهی .

گوندی ټولنی کولی شی چی ځان ته خپل منشور ولری خو د غه منشوربه دگوند د بنسټیزی سره په تضاد کښی نه وی .



دگوند مشرد گوند په دننه او بهرکښی دگوند نمایندگی کوی او حقوقی واك لری . سیاسی ، اقتصادی ، کلتوری اونور تړونونه دگوند په نامه کولی شی او هم دگوند د مختلفو چاروا و پروگرامونو سرته رسولو د پاره نمایندگان نیولی او جرگه گی جوړولی شی او هغوی ته واك ورکولی شی .

دگوند مشریوازی دگوند ستری جرگې ته مسئولیت پغاړه لری او نه شی کولی چی په یوه وخت کښی دگوند او هم د حکومت او یا هیواد مشروی .

**خپرونی :** د پښتونتولنیزا ولسولیزگوند خپلی خپرونی په پښتو ژبه په پښتونخوا کښی کوی او هم په نورو ژبو د "پښتونخوا" ځانگړی گڼی راوکاږی .

**بیرغ :** د پښتونتولنیزا ولسولیزگوند بیرغ طلائی رنگ لری چی دگوند نښه چی د پښتون نیکه خوشحال خان بابا قلم او توره ده په کښی د ورایه ځلیږی .

## دباچاخان جایزه :

د پښتونتولنیزا ولسولیزگوند د باچاخان په نامه چی زمونږ ژوندی تاریخ او سیاسی رهبر ده په هرو لسو ( ۱۰ ) کلونوکښی هغه چاته چی د قام او وطن د خپلواکۍ او ازادۍ په لاره کښی سترخد متونه کړی وی د باچاخان په نامه جایزه ورکوی . د جایزی د ورکولو جرگگی د گوند د مرکزی جرگې له خوا ټاکل کیږی .

**کورنی دود :** د دی بنسټیزی سره یو کورنی دود مل دی چی د ا بنسټیزه بشپړه وی او دگوند چاری په ښه توگه سنبالوی .

**په بنسټیزه کښی تغیراوبدلون :** په دی بنسټیزه (منشور ) کښی دگوند د ستری جرگې د رایو په دری پر څلور ( $\frac{3}{4}$ ) برخی ډیره کی سره تغیراوبدلون راتلی شی .



## ترکانی د بیزوکارندی

### «سرڅارمن محمداکبرخروتی»

زمونږگران هیواد افغانستان چی د حماسو او ویاړونو ډك تاریخ لری د طبیعی منابعو څخه شتمن او د تاریخ په اوږد وکښی د فرهنگی او کلتوری لحاظه د ویاړه ډك معنوی شتمنی لری . له بله خوا د موقیعت له حیثه خپل ستراتیژیکی ځانگړی



اهمیت لری دا ټول د دی سبب شوید ی چی د تاریخ په اوږد وکښی د خپلو کورنیو دښمنانو په مرسته د پردیو تریرغل لاندی راغلی او یا په شکل دا شکالوپه توطئواوسیاسی دسایسو کښی بوخت اوور ځنی تمدن او پرمختگ څخه بی برخی پاتی شوید ی . دا یو څرگند حقیقت دی چی اوس افغانستان د دونیا د سیمی او بالخصوص د ځینوگاوندیو له خوا داس د زغولو (بزکشی ) د گرجوړ شوید ی که څه هم د دی اصلی مسئولیت د هغه چا په غاړه دی چی برون ئی روسیان راوستل او د افغان اولس سره ئی نه هیرید ونکی اوملی خیانتونه وکړه .

زمونږ په ټولنه کښی د دینی او دنیاوی چارو ویش شوی دی چی ملا صیب ته دینی وظیفه سپارل شوی او سیاست د قومی مشرانو کاردی مطلب کارا هل کارسرته رسولی شی نود پښتو د امتل چی ترکانی د بیزوکارندی د حالا تو سره صدق کوی نو باید ه دی چی سیاست قومی مشرانو ته پریښود ل شی .

نوگرانو هیواد والو: د گران وطن په خاطر د خپل ملی نوامیس او تاریخی هرهغه مادی او معنوی افتخارات چی مونږ د رلود ل د هغه پخاطر او د خپل پښتنی غیرت په خاطرسره یوشوهر یود خپل استعداد سره سم پافغانستان کښی د یوه انتخابی ډیرگوند یزه حکومت د راتلو د پاره د زړه له کومی په هڅو کښی وروډانگوا و هغه کسان چی نیتونه اولا سونه ئی د پردیو د پاره د خدمت په خاطر کړغیږن دی خلکوته ئی ورو پیژنوا ولا زمه نده چی بیا بیا د خلکو او هیواد په سرنوشت نوی نوی نسخی د روسانوا ونورخود غرضه هیواد ونو تطبیق شی .

# نوی ژوند

خبریال: احمدشاه «امین»

**اوپرتال:** د پښتنو ټولنیزا ولسولیزگوند د مشرلو مړی مرستیال ښاغلی اید وکیټ علی خان «محسود» د پښتونخوا د دوري څخه بیرته جرمنی ته رارسیدلی دی. ده هلته د پښتنو مشرانو او نورو سیاسي او قومي سرپتوبونوسره لیدنی کتنی کړیدی او د پښتنو او سیمی د حالاتو په باره کښی د نظریو بدلون کړیدی.



فرید طوفان، خان بابا ولی خان، علی خان محسود او بی بی نسیم ولی په لیدل کیږي

**کلن:** د PSDP د مشرد وهم مرستیال او د پښتنود کلتوری ټولنی مشر ښاغلی محمد شیرین گرد یوال وویل: د اولسونو د ملی ارادی او حقوقو ساتل، پالنه او پرمختگ د بین المللی حقوقو په اند ول د هر اولس او قوم طبیعی حق دی. د پښتونخوا جوړول د پښتنو د ملی او تاریخی سرگذشت په بنیاد د پښتنو **یوسالم حق دی.** د دی حق د لاسته راوړلو لپاره باید د پښتنو ملی او سیاسی مشران د خپل اولس او ملت د هویت او تاریخی ثبات په بنیاد د هغه تورداغ د منځه وړلو کوشش وکړي کوم چې د پښتنو په لمن باندی پروت دی او د گران افغانستان خاورمئ د ملی هویت د کړکیچ سره مخامخ کړیده او په یوه میز سره راغونډ شی او د یو سالم افغانستان د جوړولو هلی ځلی په شریکه مخ په وړاندی بوزی.



**جرمنی:**

د ۱۹۸۱ کال د جنوری د میاشتی په لومړی نیټه د پښتنو ټولنیزا ولسولیز گوند د جوړولو پریکړه وشوه او د ډاکتر کبیر ستوری ترمشری لاندی یوی جرگه گۍ ته چې مهم سرپتوبونه (شخصیتونه) ئې لیاقت «وطنپال» علی خان «محسود» او اروا ښاد عبدالقدوس تندر وو دا دنده ورپغاړه شوه چې د گوند منشور ولیکی. د دغه گوند منشور په پښتونخوا او بهرکښی د پښتنو ملی ازادی د غورځنگ د پلویانو لخوا تائید شو او د ۱۹۸۱ م کال د فبروری د میاشتی په ۲۷ نیټه په یوبنست اینښود ونکی غونډه کښی ومنل شو او د گوند جوړیدل اعلان شو د ټولو پښتنو یووالی او ازادی د گوند په توگه د پښتنو ټولنیزا ولسولیز گوند د ډاکتر کبیر «ستوری» ترمشری لاندی خپلی گوندیچاری په ځرگنده مخ په وړاندی روانی کړی دی.

## کتابونه:

**ویره - کبیر ستوری**

پدی کتابکښی د ساپوهنی په رڼاکښی د ویرې نظرئی پیمانه او د رمل انځورشویدی. سړی کولای شی چې د ویری په تلي سره چې پدی کتاب کښی د مختلفو پیمانود هغه پوښتنوڅخه جوړه شویده چې د ټولو انسانانو لپاره اعتبارلری خپله ویره اندازه کړي او د خپلی ویری د د رمل لاره چاره ځان ته معلومه کړی. د چاپ ځای او کال ۱۹۹٤ کال جرمنی.

**جرمنیان بیا یوشول - علیخان محسود**

پدی کتابکښی د جرمنیانو په یووالی او تاریخ رڼا اچول شویده او په ۱۹۹۲ کال پیښورکښی چاپ شویدی.

**باچاخان او خدائی خدمتگاري**

پدی کتاب کښی په پښتنو اوتاریخی حقایقو رڼا اچول شویده ددی کتاب لیکونکی خان عبدالولی خان دی او په ۱۹۹۳ م کال د پیښور په کوهاټ کښی چاپ شویدی.



**پښتونخوا غږ - محمد افضل خان**

پښتونخوا غږ د هغه کتاب نوم دی چې د خان لالا محمد افضل خان ارزښتناکی ویناگانی چې د پاکستان په قومی اسمبلی کښی کړی دی د ښاغلی نثار مظلوم لخوا پدی کتاب کښی راټولی شویدی. دا کتاب له هر اړخه د لوستلو وړ دی او په ۱۹۹٤ م کال چاپ شویدی



د پښتونخوا قوی پارټی مشر خان لالا محمد افضل خان

**آلمانی پښتو قاموس (ډیکشنری)**

ددی قاموس لیکونکی دیپلوم انجنیر عبدالله هاشم خیل ځاځی دی او د لغاتونو شمیرئی (۱۵۰۰۰) دی په ۱۹۹۳ کال چاپ شویدی.

**آلمانی پښتو گرامر (ژب ښود)**

ددی گرامر لیکونکی ډاکتور درویزه اڅکزی دی او دا ژب ښود په ۱۹۹۵ م کال په جرمنی کښی چاپ شویدی



**فردوس یا بله نشته**

ددی کتاب لیکونکی نوال اسداوی دی ژباړه ئې شاه جهان وگړ پال کړیده په ۱۹۹۵ کال پیښورکښی چاپ شویدی.

**دکتابونو لاسته راوړلو پته او درك:**

Hedayatullah Khan Bangash
Rheinbacher Str. 20
53115 Bonn
Germany
Tel: 0228 / 659806
Fax: (0049) 228 / 659826

دا وطن زما زه ئې واکدار یمه
زه ئې خدمتگار او هم بادار یمه
زه یرغلگران پدی کښی نه پریږدم
زه ددی ساتونکی فداکار یمه
(محمد هاشم زمانی)

**غزل**

د هر زړه نه وینی څاڅی، خوگلونه تری جوړیږی
وهی داری په مخ اوښکی، سیلابونه تری جوړیږی
کده کړی عاطفو ده، د هرچا د زړه د کور نه
سرخی لاړه انگونه، سره لعلونه تری جوړیږی
ساقی هم په مند وتللی، میخانه کنډ واله ښکاری
جام نسکوردی خاورولاندی، گلابونه تری جوړیږی
ژاړی زړه په هټکوهټکو، د وصال په طمه «یاره»
شولی اوښکی ملغلری، امیلونه تری جوړیږی
(محمد اجان یار)

## د پښتونګل۲و ناری

زمـا پښتنو بـچیـانـو راسـره بیـلتـون کـړ ی
دانـګل مـی پـه کـلو د هـر بیګـا تـر سـبا وون ګـړی
پـخوامـی زوی درلود ننګـیالی وپه درست جها ن
هغه امیر کـر و ړ پـه ځمکـه مـعجـزه ووړ د سبـحا ن
زمـا تـوریالـی زامن د زمـانـی ستو ستراتـلا ن وو
ځـنی خـتـک ځـنی مـومـند څـه ابـدالـیـان وو
څـه د خـیـبرڅه دقـند هار توریالی زمـریـان وو
تـول هـند وفـارس کښی نـامـتو زړه ور غـازیـان وو
زمـا ریـښتـینو زلـموکـښی یو خوشحال وو ختـک
یوئی باباوو احـمد بل ئی محمد جان خان ورد ګ
رحـمان دقـلم پاچاوو حمید پسی راغـی الـفت
یوئی دتـوری نیـکـه وو مـیـر ویس خـان هوتـک
زمـاپښتـنو بچـیـانـو راسره بیلـتون کـړی دی
د دښـمن سره ئی پـه پـتـوسـترګـو پـیوسـتون کړی
اندیښمنه یم چی دغـفـلت پـه لـور ئی خـوځون کړی
خـپل وژنـی پـردوسره ئی سـمـون کـړی
پښتنویوازی‌په خپـلواکـی بیـر غ او چـت کړی
داپیغام مخکی له جاوید نه سل ځلی خوشحالخان کـړی
«ډاکتر محمد جاوید وردګ د چک جمهوریت»

که مینه نه وای دا جهان به نه وای
داکوزه زمکه پاس اسمان به نه وا ی
دی حقیقت نه انکـار نه شی کیدای
که جهان نه وای نو انسان به نه وای
(شمس بونیری)



# د زمانی ننګیالي

## ډګروال احمدجان

داسیاپه زړه کښی د پښتنوخاوره د خپل جغرافیائی موقیعت له کبله د کلتوری، سیاسی اوتجارتی ارتباط مرکزاود مدینتونو ځانګـو کـنل کیږی چی دیو ی خوائی خپلی پلوشی په نړی کښی خپری کـړی اود بلی خوائی د پرځوا کونه پدی خاوره یرغـلـته هڅولی دی چی دامـد نیتونـه ویجاړ کـړی.



ډ ګروال احمد جان

دي خاوري په خپله غـیږکښی د یرننګیالي اواتلا ن هم روزلی دی چی د یرغلګـرومخی ته دریدلی دی. یـوتن د دی اتلا نوڅخه خوشحال خان خـتـک دی چی خپلـه توره دقـام په ننګه د مغلوپه ضد را اخلی او وائـی: دافغان په ننګ می وتړله توره
ننګـیالی د زمـانـی خوشحال ختک یم
د پښتون بابا خوشحال خان د توری څخه د ښمنان د ومـره د اریدل چی دی ئی خپله وائی: لا په خوب کښی په لړزه پریوزی له کـته
چی د چاترغو ږ ځماد تـوری شرنګ شی
په پښتـنـوکښی خوشحال خان بابانه یوازی د توری بلکه د قـلـم خاوند هم کـنل کیږی. د قلم په برخه کښی خوشحالخان بابا د پښـتو ادب د ودی جګ پړاوته رسولي دی او د پښتنود یووالی نظرئی ته ئی پکښی دتل لپاره ژ ونـد وربښخلی دی چی وائی:
پښتنوځلمیانوبیامنګلی سری کړی لکه بازمنګلی سـری کاندی په ښکار
درست پښتون د قند هاره تراټکه سره یو د ننګ په کـارښت اواشکار
نن ورځ د خوشحالخان بابا د اشعرد پښتنود تولنیزا ولسولیز ګوند چی د پښتنود یووالي اوخـپلواکـۍ رسـالت وریـغاړه دی نارا د ه.



خـوشحـال خان بابا خـپلـه پیـژندګـلـوی داسـی کـوی:

| | |
|---|---|
| زه خوشحال د شهباز خان یم | چـی تـورزن یـم کـان پـه کـان |
| شهبـازخان د یحیـی خان و | چـی بـل نه و هـسی ځـوان |
| یحیـی خان د اکـوړ ی و | چـی پـه تـوره شـو سلطـا ن |
| د ا کـهـر بـاد شا په دور | شـود خـپل اولـس نـور خان |
| د هجرت زود وه ویشـت سن و | چـی زه راغـلـم پـه جـهـان |
| هـفـه کـال پوره پنځـوس و | چی شهـید شـو شهـبازخان |



خـوشحال خـان بابا
( ۱۰۲۲ـ ۱۱۰۰ هـ یا ۱٦٤۳ ـ ۱۷۲۱ ع )

که توفیـق د اتفاق پښتـانه مومی
زوړ خوشحال به شی په دا ځبره ځوان




کـه سـپوره وی کـه پـوره وی پـه شـریـکه بـه وی
(بـاچـاخـان)

Das Brot, ob belegt oder trocken, wird unter allen gemeinsam aufgeteilt
(Batscha chan)

Buttered or unbuttered bread will be common (Bacha Khan)